جناب شوکت علی یوسفزئی (وزیر صحت): خبره خو اوریدل پکار وو۔

جناب ڈپٹی سپیکر: تاسو یو منټ، د اپوزیشن والا ته ریکویسټ کوم، که یو منټ تاسو کښینئ او دا خبره واورئ جی۔

وزیر صحت: دا ډیره د افسوس خبره ده۔۔۔۔۔

جناب ڈپٹی سپیکر: جی شوکت یوسفزئی صاحب۔

وزیر صحت: چې اپوزیشن خپله خبره وکړی، سپیکر هم د یوې حلقې نه منتخب، خلقو ورله ووټ ورکړے دے خو زما خیال سره دا خبره اول خو سړے واوری چې وجه څه ده چې هغه دلته ایوان کښې نشته؟ یو خو دا ده چې سپیکر صاحب، د هغه خپل څه کورنی پرابلمز دی، د کورونو د پرابلمز د وجې نه هغه په چهټئ دے او دا نه ده، او دا خبره بالکل زه Deny کوم چې هغه دا اوئیل چې د خپل ورور د پاره Election campaign چلوی، حالانکه د هغه ورور ته لا ټکټ نه دے ملاؤ، نه داسې څه خبره شته۔ یو خو دا حق څوک نه شی اخستے ځکه چې هغه هم د یوې حلقې نه راغلے دے، که نن هغه په خپله حلقه کښې هم ناست وی، د چا خبره اوری یا د خپلې حلقې خلقو سره ملاویږی نو دا آئینی قانونی حق دے، دا هغه نه څوک نه شی منع کولے۔ سبا به هغه بیا الیکشن ته ودریږی د هغه حلقې نه، خو زه ډیر افسوس سره دا خبره کوم چې سړے تحقیق وکړی او دا تاسو څنګه، دا ټول چې څنګه معزز ممبران دی، د هر سړی خپل حق دے، څوک به لس ورځې چهټی اخلی، څوک به پینځه ورځې چهټی اخلی، داسې د هغه کورنی پرابلمز دی، هغه په چهټئ دے نو زما هغوی سره، په دې دومره اپوزیشن له دغسې Role ادا کول نه دی پکار۔ هغه Custodian of the House دے، د هغه عزت پکار دے، داسے سرعام او کومه حده پورې چې د هغه د صوبائی صدارت خبره ده، هغه به اوس Party decide کوی او ان شاء اللّٰه و تعالیٰ ډیر زر به Decide کړی ځکه چې دا خبره د هغه سره نه ده، دا د پارټئ سره ده۔ پارټئ هغه مجبوره کړے دے چې ته اوسه پورې دا خپله عهده د ځان سره وساته نو کله چې ان شاء اللّٰه پارټی فیصله وکړی، د هغې باره کښې به ایوان بالکل آګاه کړو۔ ډیره مهربانی۔

جناب ڈپٹی سپیکر: دې دوه کسانو ته ریکویسټ کوم، شوکت یوسفزئی صاحب شوا و اسرار اللہ گنڈاپور صاحب، مهربانی وکړئ تاسو لږ-----

جناب ڈپٹی سپیکر: محترمہ معراج ہمایون صاحبہ۔

محترمہ معراج ہمایون خان: اَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ۔ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيمِ۔
Thank you very much, Mr. Speaker for giving me a chance to show my appreciation for my colleagues & the treasury benches, who produced and gave to us a very balanced budget, free of new taxes, increased salaries for the working people and no extra burden on anybody, well increase in every sector of the development programme. It is only experienced people like our Finance Minister, our Chief Minister and our Senior Minister from Qaumi Watan Party, who can sit together and think in a mature manner in a very short time to come up with the budget that was read out to us and that was distributed to us. Our full applause and our full appreciation, they deserve all encouragement and all appreciation for this. (Applause) The conditions that we are in this Province with bomb blasts everyday and killing everyday.

میں اور بھی ان کو Appreciate کرتی ہوں کہ ایسے ذہنی دباؤ کے نیچے اور اتنے قلیل عرصے میں اور جب ہماری Dependence فیڈرل گورنمنٹ پر ہو ہمارے وسائل کیلئے، تو ایسا بجٹ لانا بہت ہی مشکل کام ہوتا ہے لیکن یہ ہمارے سینیئر منسٹرز، ان کی محنت کا نتیجہ ہے۔ اگر اپوزیشن بنچوں کی بات، ہم یہ مان بھی لیتے ہیں کہ انہوں نے ایک پرسنٹ اس پر کام کیا ہے، جیسا کہ ہمارے ایک معزز Colleague نے کہا، تو وہ ایک پرسنٹ بھی اتنا Heavy ہے، اتنا کافی ہے کہ اس نے اس بجٹ کو Balanced کر دیا ہے اور ہمارے لئے قبول کرنے کا موقع دیا ہے اور ہمیں فخر کرنے کا موقع دیا ہے۔ سپیکر صاحب، میں آپ کا شکریہ اور بھی ادا کرتی ہوں کہ ایک ممبر کی حیثیت سے آپ نے مجھے ایک حق دیا کہ ایک طرف تو میں خراج تحسین پیش کروں اور Appreciate کروں اپنے Colleagues کو، لیکن دوسری جانب You gave me a right to submit very humbly few recommendations, which I feel as a Member of this Parliament and being a representative of the people of my constituency and all the women, I can put before this august House, some recommendations, which I hope my colleagues in the Finance will consider sympathetically and try to

include them as much as possible۔ میرے پاس تین سیکٹرز ہیں، پہلے والا پر بحیثیت خاتون میں بات کرنا چاہتی ہوں کیونکہ جہاں میں نے اس کو ایک عوامی بجٹ قرار دے دیا ہے لیکن دوسری جانب میں ایک خاتون کی حیثیت سے جب اس کو دیکھتی ہوں تو یہاں پر مجھے تھوڑی سی کمی نظر آتی ہے جس پر میں بات کرنا چاہتی ہوں۔ I was disappointed when no female Minister name was announced، ایک ایسا صوبہ جہاں پر ہم فخر کرتے ہیں اپنی چھوٹی بچی ملالہ پر، جس نے ہماری قوم کیلئے ایک نوبل پرائز تک ہمیں پہنچا دیا ہے تو کیا اس اسمبلی کے اندر اتنی خواتین کی موجودگی میں کوئی ملالہ نہیں تھی؟ کوئی بھی اس قابل نہیں تھی کہ اس کو منسٹر بنایا جائے؟ اگر گورننس کا معاملہ ہے اور منسٹرز کو کم کرنا تھا، کیبنٹ کو کم کرنا تھا لیکن عورتوں کی قربانی کیوں دی گئی؟ ایک خاتون کو کیوں ہٹا دیا گیا؟ 15 منسٹرز اور پھر 10 سپیشل اسسٹنٹس اور ایڈوائزرز، تو 25 تک تو ہم کیبنٹ لے گئے اور ایک ہماری بہن کو جو 40 سال سے متواتر قوم کی خدمت کر رہی ہے اور ایک پروفیشنل خاتون ہیں تو ان کو صرف سپیشل اسسٹنٹ کے زمرے میں ڈال کر ایک مہربانی تو کی ہے ہم پر کہ چلو ایک خاتون کا نام آ گیا، مراعات بھی ان کو مل رہی ہیں لیکن ان کو یہ رتبہ منسٹر کا کیوں نہیں مل رہا؟ میری گزارش ہے کہ اس کو Correct کیا جائے اور اس خاتون کو ڈاکٹر مہر تاج کو بجائے سپیشل اسسٹنٹ کے ان کو Full fledge Minister کا عہدہ دیا جائے اور ساتھ میں ایک دو اور منسٹرز کو بھی Induct کیا جائے۔ (تالیاں) ایک تو یہ ہمارے ساتھ ذرا ناانصافی ہوئی ہے خواتین کیساتھ۔ دوسرا بجٹ پر نظر ثانی کرتے ہوئے ایک اور Shock جو ملا، وہ یہ کہ ویمن ڈیویلپمنٹ کو سوشل ویلفیئر کیساتھ ملا دیا ہے، ایسا تاثر دیا جاتا ہے اور میں قومی وطن پارٹی کی ممبر ہوں اور جہاں پر ہمیں خواتین کو بہت ہی زیادہ اہمیت دی جاتی ہے تو میرے لئے مشکل تھا اس کو قبول کرنا کہ ویمن ڈیویلپمنٹ تو ایک Totally different sector altogether، اس سے تاثر ایسا پیدا ہو جاتا ہے کہ 50 فیصد خواتین اس صوبے میں Paralyzed ہیں، وہ Crippled ہیں، وہ Weak ہیں، وہ کمزور ہیں، لاچار ہیں اور ان کیلئے ویل چیئرز چاہئیں، ان کیلئے ہسپتالوں میں بندوبست کیا جائے، ان کو گھروں میں بٹھا دیا جائے، ان کو سلائی کی مشین دی جائے، ہم لاچار اور مجبور تو نہیں ہیں؟ سوشل ویلفیئر کا فنڈ تو معذور اور لاچار عوام کیلئے ہوتا ہے، ہمیں تو ماشاءاللہ، اللہ تعالیٰ نے ساری نعمتوں سے نوازا ہے، We are strong, we are

intelligent, we are capable, we are committed اور ہم نے Prove کیا ہے۔ اگر آپ کی Reasoning یہ ہے کہ عورت ڈیولپمنٹ میں حصہ نہیں لے سکتی، اس کی Advisory capacity اتنی نہیں ہے کہ وہ آکر ایسے جگہوں پر ڈیوٹی ادا کرے تو میں آپ کو اسلام کی تاریخ کی طرف لے جاتی ہوں۔ کیا حضور ﷺ کی ایڈوائزر بی بی خدیجہؓ نہیں تھیں؟ بی بی خدیجہؓ کو آپ بھول رہے ہیں، بی بی عائشہؓ کو آپ بھول رہے ہیں، بی بی فاطمہؓ کو آپ بھول رہے ہیں اور حدیبیہ کے وقت ان کو ایڈوائس دینے والی ایک خاتون تھی امہ سلمہؓ، جب سرور کائنات ﷺ اتنا درجہ دے سکتے ہیں خواتین کو تو ہمارے صوبے میں جہاں پر، اور اس ملک میں جس کو ہم اسلامی جمہوریہ پاکستان کہتے ہیں، وہاں پر خواتین کو کیوں ایسے نیچے لے جایا جارہا ہے؟ (تالیاں) میری گزارش ہے وزیر خزانہ صاحب سے اور چیف منسٹر صاحب سے کہ ویمن ڈیویلپمنٹ کو الگ کیا جائے، ویمن ڈیویلپمنٹ جو ہے، وہ صرف Sewing machine نہیں ہے، وہ صرف سلائی کڑھائی نہیں ہے۔ میری Suggestions میں ویمن کیلئے اس اسمبلی کی، اس اسمبلی میں جہاں پر ہم 22 خواتین ہیں اور ہمارے ساتھ اور بھی آجاتی ہیں سٹاف سیکرٹریٹ سے، ہمارے ساتھ ایک چھوٹا سا ڈبہ ہے، ایک چھوٹا سا کمرہ ہے اور ایک ہی واش روم ہے، ہمیں Facilities, Women Development, Gender Development کا مطلب یہ ہے کہ Facilities ہر جگہ ہونی چاہیئں تاکہ خواتین بھی اسی طرح Efficiently کام کرسکیں جس طرح مرد حضرات کرتے ہیں۔ تو سیکرٹریٹ میں اور پبلک بلڈنگز میں خواتین کیلئے Facilities provide کرنا ویمن ڈیویلپمنٹ ہی کرسکتا ہے۔ ایک خاتون ہی آکر اپنے مسائل کیلئے حل ڈسکس کرسکتی ہے، اپنی Recommendation دے سکتی ہے۔ میں یہ نہیں کہتی کہ مرد میں یہ Capacity نہیں ہے لیکن اس سے انکار بھی نہیں کیا جاسکتا کہ مرد حضرات کی سوچ عورتوں سے مختلف ہے، ہماری Needs اللہ تعالیٰ نے مختلف بنائی ہوئی ہیں، ہم میں جو قوت ہے، وہ اللہ تعالیٰ نے ہمیں دی ہوئی ہے اور اس قوت کو آگے لانا ہے تاکہ ملک ترقی پر گامزن ہوجائے۔ (تالیاں) ہمیں ٹرانسپورٹ چاہیئے، خواتین کو ٹرانسپورٹ چاہیئے، بہت سی ہماری بچیاں بہت اہم Role ادا کرسکتی ہیں لیکن ٹرانسپورٹ کی وجہ سے گھروں سے ان کو اجازت نہیں مل رہی۔ نہ ٹیچرز بن سکتی ہیں، نہ ڈاکٹرز بن سکتی ہیں، نہ نرسنگ کیلئے آسکتی ہیں، نہ Banks میں کام کرسکتی ہیں تو ہمیں ٹرانسپورٹ چاہیئے۔

ہماری وہ خواتین جن کے چھوٹے چھوٹے بچے ہیں اور وہ کام کیلئے آرہی ہیں، ان کے Infant بچوں کیلئے اور Toddlers کیلئے Creches چاہئیں دفتر کے اندر، بینک کے اندر، جہاں پر بھی وہ کام کررہی ہیں، ان کے بچوں کی حفاظت کیلئے ساتھ ایک نرسری، ایک Creche بنانی چاہیئے۔ ہمارے Home based workers کا کوئی ذکر نہیں ہے، میرے خیال میں 80 نہیں تو 60 percent خواتین ایسی ہیں، خاصکر ڈیرہ اسماعیل خان میں، خاصکر سوات میں، خاصکر ہریپور میں جو گھروں میں بیٹھ کر سلائی کڑھائی کررہی ہیں اور اس قوم کی، اس صوبے کی جی ڈی پی میں ان کو شامل ہی نہیں کیا جاتا۔ ہماری جو ایگریکلچر ہے، اس میں خواتین کا جو Role ہے، لائیوسٹاک میں جو Role ہے، ہمارے بجٹ میں اس کا ذکر نہیں ہے۔ بڑی مہربانی ہوگی، میں عاجزی سے ریکویسٹ کرتی ہوں کہ اس کو شامل کیا جائے۔ پھر ہمارے Crises centres فیڈرل گورنمنٹ نے جس وقت یہاں کھولے تھے، Crises centres اب سوشل ویلفیئر ان چیزوں کیساتھ نہیں ڈیل کرسکتا، یہ ویمن ڈیویلپمنٹ کا الگ ڈیپارٹمنٹ یہ ضروریات ہماری پوری کرسکتا ہے۔ بہت سی خواتین مجبور ہیں، ان کو طلاق دے دیا جاتا ہے، وہ Separate ہوجاتی ہیں، گھر میں ناچاقی آجاتی ہے اور وہ آکر گھروں میں بیٹھ جاتی ہیں، ان کو Legal assistance کی ضرورت ہوتی ہے، ان کو Emotional support کی ضرورت ہے، Crises centres کی اشد ضرورت ہے یہاں پر۔ Young widows، میں نے پہلے بھی ذکر کیا کہ ہمارے پاس بہت ساری ایسی ہیں جو یہ 30 سال سے ہم یہ جنگ لڑرہے ہیں Terrorists کے خلاف، ہماری بہت سی بچیاں Widows ہوگئی ہیں، وہ Jobs کیلئے نکل آئی ہیں، مجبوراً وہ نکل آئی ہیں لیکن ان کو ٹیکس سے مستثنیٰ نہیں قرار دیا جاسکا، اس پر بھی نظرثانی کی جائے۔ وہ خواتین، 'ینگ' خواتین یا ایک بچے کیساتھ کچھ تو War کی وجہ سے، کچھ گھر کے حالات کی وجہ سے وہ گھروں میں آکر Widows بیٹھ گئی ہیں، ان کیلئے ہم نے کیا Offer کیا؟ دوسرا سیکٹر جس کو میں سمجھتی ہوں کہ اس کو اتنی توجہ نہیں دی گئی، وہ انوائرونمنٹ ہے اور یہ بھی میرے لئے ذرا مشکل تھا، اس کو Accept کرنا کیونکہ آج کل کے زمانے میں انوائرونمنٹ انٹرنیشنل ایک Burrning issue ہے اور اس پر تو ہم جتنا بھی زور دیں، وہ پھر بھی کم ہوگا۔ 'گلوبل وارمنگ' کی ہر جگہ بات ہوتی ہے، ہمارے گلیشیئرز، ہمیں خود بھی پتہ چل رہا ہے کہ پچھلے دنوں پانی اتنا زیادہ اوپر ہوگیا، چونکہ گلیشئرز، دھوپ جو چڑھی اور سورج وہ ہوگیا

تو پانی اوپر آ گیا، اس کیلئے ہم کیا کر رہے ہیں؟ ہمارے بجٹ میں انوائرونمنٹ کیلئے بہت کم وہ مختص کیا ہے اور وہ بھی صرف EPA کو Strengthen کرنے کیلئے، ٹھیک ہے EPA ایک ادارہ ہے اور اس کو Strengthen کرنا چاہیئے لیکن دو تین پراجیکٹس صرف EPA کے زمرے میں ڈالنا وہ انوائرونمنٹ کو Represent نہیں کرتے، انوائرونمنٹ کیلئے ہمیں، یہ 'گلوبل وارمنگ' کیلئے ایک Strategy بنانی ہے، اس کیلئے کیا کر رہے ہیں؟ ہمارے پشاور کا یہ پانچ چھ سال پہلے جب EPA کے پاس کچھ Facilities تھیں، یہ ٹیسٹ کرانے کی، تو سپین جمات کے باہر جو کاربن مونو آکسائیڈ کا لیول تھا، وہ دس گنا زیادہ انہوں نے دکھایا تھا، جو ایک زہریلی ہوا ہے اور ہمارے لئے بہت مضر ہے، اس کیلئے پھر ہم نے کچھ بھی نہیں کیا، پشاور، صوابی، کوہاٹ، سارے بڑے بڑے شہروں میں ہماری ہوا جو ہے، وہ خطرناک حد تک زہریلی ہو چکی ہے اور اس کیلئے کچھ کرنا چاہیئے۔ پھر ہمارے دریا، ہماری مچھلیاں مر رہی ہیں کیونکہ ہمارے دریا، ہمارے Streams، ہمارے Canals سارے آلودگی میں، سارے گند سے بھر گئے ہیں اور اس کی صفائی کا کوئی خاطر خواہ وہ نہیں ہوا، ڈھیران بنی ہوئی ہیں جگہیں، میونسپل سروسز کہیں بھی نہیں ہیں اور اسی ڈھیران میں ہمارے بچے جو چائلڈ لیبرز ہیں اور جو Street childs ہیں، وہ اسی گندگی کے ڈھیر میں پل رہے ہیں اور ادھر سے کاغذ اور ادھر سے بوتلیں اٹھا کر اور ان کیلئے بھی کوئی یہاں پر بندوبست نہیں ہے۔ ٹریفک، The noise pollution، یہ حد سے زیادہ بڑھ گئی ہے جو ہمارے دماغ کو، ہماری سوچ کو مفلوج کر رہی ہے۔ پلاسٹک بیگز کے ڈھیر لگے ہوئے ہیں، ہمارے سارے درخت جو ہیں، وہ سرسبز ہونے کی بجائے رنگ برنگے پلاسٹک بیگز سے، دور سے نظر آتے ہیں، ان کی Disposal انوائرونمنٹ ڈیپارٹمنٹ کا کام ہے کہ ان کی Disposal یا ان کی Recycling کیلئے کچھ پراجیکٹس بنائے۔ ہمیں Green spaces چاہیئں جو ہمارے پاس نہیں ہیں، پشاور میں ایک ہمارے پاس ڈیفنس پارک ہے اور ایک چاچا یونس پارک ہے، اتنے عرصے میں یہ دو بڑے پارکس ہیں۔۔۔۔

ایک رکن: ناران پارک بھی ہے۔

محترمہ معراج ہمایون خان: اور حیات آباد میں ناران، تو یہ تین پارکس ہیں اور ہمیں ہر جگہ پر، تھوڑے تھوڑے وقفے کیساتھ وہ کرنا ہے۔ بہت عرصے سے ہم یہ Recommend کر رہے ہیں کہ پشاور کا جیل

یہاں سے کہیں اور شفٹ کرکے اگر اس جیل میں ہم پارک بنالیں تو ایک بہت اچھی ڈیویلپمنٹ ہوگی۔ چونکہ ہمارا شہر کافی آلودہ ہوچکا ہے اور ساتھ ساتھ اگر میں یہ بھی کچھ گزارش کرسکوں اور جرات کرسکوں سپیکر صاحب، کہ یہ جو US Consulate ہے جس نے اتنی رکاوٹیں ڈال دی ہیں ہماری Movement میں اور جو خطرہ پیدا کیا ہوا ہے صدر کے ایریا میں، یہ کنٹونمنٹ ایریا میں، اگر اس کو بھی شفٹ کیا جائے تو ہماری Movement ہو جائے۔ ایجوکیشن کے بارے میں تو بہت ہی زیادہ ہیں لیکن شاید ٹائم کی وجہ سے میں وہ نہ کرسکوں لیکن میری ایک جو گزارش ہے سپیکر صاحب اور فنانس منسٹر صاحب، کہ ایجوکیشن کا بجٹ یا ایجوکیشن کے پراجیکٹس جب بھی ہم سوچتے ہیں تو ان کو دو تناظر میں کہتے ہیں، ایجوکیشن ڈیپارٹمنٹ کا کام ہے کہ سارے بچوں کو Enrol کرے اور پھر ڈراپ آؤٹ ختم کرے، یہ دو Enrolment Objections ہیں میرے ایجوکیشن ڈیپارٹمنٹ کے اوپر، یہاں پر ابھی تک ہمارے پاس 45 لاکھ بچے جو Last statistics میں نے دیکھی ہیں، 45 لاکھ بچے ابھی تک باہر ہیں سکولوں سے اور Dropout rate بھی میرے خیال میں 40 فیصد ہے تو اس پر نہیں سوچا گیا۔ اگر ہم 300 سکولز سال میں کھولتے بھی ہیں اور اس پر فخر کرتے ہیں تو 300 سکولوں میں اگر 200 بچے بھی آپ ڈال دیں، یہ یہاں پر تو سب رونا رو رہے ہیں کہ پرائمری سکولز میں دو کمرے ہوتے ہیں یا تین کمرے ہوتے ہیں تو اگر ان میں 200 بچوں کو گھسا بھی لیں تو 2X300 تو ہم 45 لاکھ بچوں کو اندر لاتے لاتے 22، کتنے سال لگیں گے؟ ہم 2015 کی MDGs کو کبھی حاصل نہیں کرسکتے۔ ہمارے بچے اسی طرح سڑکوں پر اور گلیوں میں زندگی گزاریں گے تو میری گزارش ہے کہ ہمیں ایک تعلیمی ایمرجنسی جو ہے جس کو ہم کہتے تو ہمیں 20، 22 ہزار سکولز سالانہ چاہیئں صرف پرائمری لیول پر، تو اس کیلئے ہم نے پرائیویٹ سیکٹر کو بہت Strengthen کرنا ہوگا۔ سارے جو ہمارے پاس ہیں، چاہے این جی اوز ہیں، چاہے مساجد ہیں، چاہے مدرسہ ہیں، چاہے پرائیویٹ سکولز ہیں، اس وقت ہم صرف Enrolment کی بات کریں کہ سب بچوں کو ہم Catch کریں اور اندر لے آئیں اور سب مل بیٹھ کر یہ کام کریں، تو اس کیلئے ہمیں ٹیچرز کی بھی ضرورت ہوگی۔ میرے خیال میں اس وقت ٹیچرز کی ریٹائرمنٹ کا کام ختم ہی ہونا چاہیئے، ٹیچرز ہمارے پاس نہیں ہیں کیونکہ ہائر لیول پر خاصکر فیمیل تو جا ہی نہیں رہی ہیں، ان کی شادیاں ہو جاتی ہیں ایف اے کے بعد اور میٹرک کے بعد، تو جو ہمارے پاس

Existing teachers ہیں، میری Suggestion جو ہو گی سپیکر صاحب کہ ان کو Extension ملنی چاہیئے۔۔۔۔۔

ایک رکن: فیمیل میں۔

محترمہ معراج ہمایون خان: میل فیمیل دونوں میں ہو جائے۔ ہمارے پاس تو سر، Research کیلئے کچھ بھی نہیں رکھا، ریسرچ مانٹیرنگ تو اچھی ہو گی اور مانٹیرنگ، میں فخر کرتی ہوں اپنے general صوبے پر یعنی تھوڑا عرصہ یہ قلمدان میں نے سنبھالا تھا تو سارے صوبوں میں خیبر پختونخوا مانٹیرنگ کے لحاظ سے سب سے اچھا تھا۔ ہمارا EMIS بہت اچھا ہے، بہت Efficient وہ ہے۔۔۔۔۔

جناب ڈپٹی سپیکر: محترمہ بیس منٹ ہو چکے ہیں، وائنڈاپ کی کوشش کریں۔

محترمہ معراج ہمایون خان: Cities میں Education framework، میں Close کر رہی ہوں، چاہے Child friendly schools ہوں، Equipments ہوں، Teaching aids ہوں اور Minimum wage کی بات ہو رہی ہے، جس کو بہت ہی Appreciate کرتی ہوں کہ آپ نے بڑھا کر 10 ہزار کر لیا ہے، یہ بہت ہی اچھا Step ہے لیکن سر، آپ پھر پرائمری سکولز ٹیچرز کا سوچیں اور خاصکر پرائیویٹ سکولز کا، جہاں پر 2 ہزار اور 3 ہزار تنخواہ ملتی ہے تو ان کا ہم نے کیا کرنا ہے؟ یہ Top ten اور Top twenty کی بات ہوئی تو اس میں پرائیویٹ سکولز آتے ہیں۔ اپوزیشن بنچز پر تو کوئی نہیں ہے لیکن Top ten اور Twenty کا بھی وہ Analysis ہونا چاہیئے، وہی پانچ چھ سکولز ہیں پرائیویٹ سیکٹرز میں جو Top ten اور Twenty پر جا رہے ہیں، اس میں گورنمنٹ سکولز کا کوئی وہ نہیں ہے، ایسا کوئی قصور نہیں ہے۔ گورنمنٹ سکولز میں 60 فیصد بچے جا رہے ہیں جو Low income group کے ہیں اور اچھا خاصا ان کا ریزلٹ آ رہا ہے، اس پر اتنی تنقید نہیں ہونی چاہیئے۔ شکریہ بہت بہت۔

(تالیاں)

جناب ڈپٹی سپیکر: محترمہ راشدہ رفعت صاحبہ۔

محترمہ راشدہ رفعت: بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ۔ شکریہ جناب سپیکر۔ میں سمجھتی ہوں کہ یہ بجٹ بڑی محنت سے متوازن اور عوامی بجٹ بنایا گیا ہے، کم وقت تھا، اس میں اچھی محنت کی گئی ہے۔ اس میں بہت سی

چیزیں تو آگئی ہیں، بہت سے نکات جو میرے ذہن میں تھے اور میں نے کہنے تھے، وہ بہت سے ارکان اسمبلی کی طرف سے آپ کے پاس آچکے ہیں کہ محنت کش طبقہ کیلئے سہولت دی گئی ہے، خواتین کیلئے بہت سی سہولیات ہیں، ریلیف دی گئی ہے، سرکاری ملازمین کی تنخواہوں میں اضافہ بھی کیا گیا ہے اور کوئی نیا ٹیکس نہیں لگایا گیا۔ تعلیم اور صحت کے محکموں میں بھی اچھی پیشرفت ہے لیکن اس میں انقلابی تبدیلیوں کی ضرورت ہے، یہ بہت حساس شعبے ہیں دونوں، میری بہن نے بہت اچھی طرح بہت وضاحت کیساتھ آپ کے سامنے یہ بات کہی ہے۔ ہمارا اصل میں صوبہ مسائل کیساتھ ساتھ وسائل، دونوں چیزیں ہیں، وسائل سے مالامال ہے لیکن مسائل سے بھی مالامال ہے۔اس میں بہت سے مسائل ہر قسم کے محکمے میں، ہر شعبے میں موجود ہیں اور سب سے بڑا جو مسئلہ ہے، وہ دہشتگردی کا مسئلہ ہے کہ اگر اس پر قابو نہ پایا گیا تو بہت سے ہمارے جو منصوبے ہیں، وہ پایہ تکمیل تک نہیں پہنچ پائیں گے۔ صحت کے محکمے میں بہت پیشرفت کی ضرورت ہے، اچھا بجٹ رکھا گیا ہے، اس میں اچھی ریلیف دی گئی ہے، پیرامیڈیکل سٹاف کیلئے بھی اور اس میں اضافے کی ضرورت ہے، سٹاف کے اضافے کی ضرورت ہے اور اس کی مانیٹرنگ کی بھی بہت ضرورت ہے۔ بہت لوڈ ہے پشاور کے ہسپتالوں پر لیکن اس کیساتھ میں مطالبہ یہ کرتی ہوں کہ نوشہرہ کا قاضی حسین احمد ہسپتال جو ہے، اس کی تعمیر کو مکمل کیا جائے اور وہ تکمیل کے قریب قریب ہی ہے۔اس کی تکمیل کی وجہ سے پشاور کے ہسپتالوں پہ لوڈ کم ہو جائے گا۔ جتنے بھی معزز اراکین یہاں سے جا چکے ہیں، انہوں نے بڑی مثبت پیشرفت کیساتھ بہت سی چیزیں ہمیں بتائی ہیں لیکن ساتھ ساتھ جو بے جا تنقید تھی، اس کو بھی ہم بہت کھلے دل کیساتھ لیتے ہیں۔ یہاں وزیراعلیٰ صاحب کو بھی اور فنانس منسٹر کو بھی بہت مبارکباد دیتی ہوں بہت حوصلہ افزاء بجٹ پیش کرنے پر، پیش کرنے کیساتھ ساتھ میں امید کرتی ہوں کہ اس پر خاطر خواہ عملدرآمد بھی ہوگا۔ بہت سے منصوبے آتے ہیں، بہت اچھے منصوبے ہوتے ہیں، اس میں بہت اچھی پیشرفت ہے، بڑے اچھے منصوبے دیئے گئے ہیں، بہت اچھا بجٹ ہے ہمارے تمام عوام کیلئے اور ایک عوامی بجٹ کہلایا جاتا سکتا ہے لیکن اگر اس کی Implementation اس طرح سے نہ ہوئی تو پھر اس کا یہ خطرہ ہے کہ یہ اس طرح سے نہیں چل پائے گا جس طرح سے اس کا خواب دیکھا گیا یا اس طرح سے جو ہمیں چاہیئے ہوتا ہے۔

آپ سب کو مبارکباد بھی ہے اور اس تمام ایوان کو بھی اور سب سے اچھی بات یہ ہے کہ جو منانے کیلئے لوگ گئے ہیں، ان کو بھی اب جلدی اگر بلالیں تو زیادہ اچھا ہوگا اور اس ایوان کا حسن بحال ہو جائے گا۔۔۔۔

(اس مرحلہ پر حزب اختلاف کے اراکین واک آؤٹ ختم کر کے ایوان میں واپس آگئے)

(تالیاں)

محترمہ راشدہ رفعت: اور شاید وہ آ بھی گئے ہیں، آپ سب کو مبارکباد پیش کرتی ہوں۔ شکریہ جناب سپیکر۔

جناب ڈپٹی سپیکر: میں اپوزیشن کے تمام اراکین کو خوش آمدید کہتا ہوں، بہت شکریہ، نوازش۔

(تالیاں)

جناب شوکت علی یوسفزئی (وزیر صحت): جناب سپیکر! یو گزارش کوم۔

جناب ڈپٹی سپیکر: جی شوکت یوسفزئی صاحب۔

وزیر صحت: سب سے پہلے تو میں اپنے اپوزیشن کے بھائیوں کا مشکور ہوں کہ انہوں نے ہماری درخواست قبول کی اور ایوان میں دوبارہ تشریف لائے۔ جہاں تک ان کے تحفظات کی بات تھی تو جناب سپیکر، بڑی Genuine بات تھی اور ہم اس کو Appreciate کرتے ہیں۔ (تالیاں) سپیکر صاحب کے حوالے سے جو انہوں نے بات کی کہ وہ ایوان میں موجود نہیں ہیں تو سپیکر صاحب سے بھی میری بات ہوگئی ہے، ان کا گھریلو مسئلہ ہے، اس میں وہ ہیں اور شاید ایک دو دن میں، شاید Monday تک وہ آ بھی جائیں لیکن چونکہ ان کا اپنا ذاتی مسئلہ ہے تو اسلئے میں اس پہ زیادہ بات نہیں کروں گا لیکن جہاں تک انہوں نے پارٹی عہدے کی جو بات کی ہے تو رولز آف بزنس میں یہ چیزیں خاموش ہیں، ایسی کوئی بات نہیں ہے لیکن روایت رہی ہے۔ میں ان سے اتفاق کرتا ہوں اور ہماری پارٹی کا مسئلہ ہے، پارٹی میں بیٹھ کر اس پر کوئی Decision لینے کے بعد اس ایوان کو ہم آگاہ کر دینگے۔ بہت شکریہ۔

(تالیاں)

جناب ڈپٹی سپیکر: بہت شکریہ جی۔ مفتی سید جانان صاحب سے گزارش ہے کہ وہ، مفتی سید جانان صاحب۔

(تالیاں)

جناب ڈپٹی سپیکر: مائیک آن کریں جی۔

مفتی سید جانان: اَعُوذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیطٰنِ الرَّجِیم۔ بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِیمِ۔ فَلۡیَعۡبُدُوا۟ رَبَّ هَـٰذَا ٱلۡبَیۡتِO ٱلَّذِیۤ أَطۡعَمَهُم مِّن جُوعٍ وَءَامَنَهُم مِّنۡ خَوۡفِۭ۔ جناب سپیکر صاحب، غالباً غالباً دا څومره تقریرونه چې وشو، دا یو بل سره ملاؤ ملاؤ تقریرونه دی۔ زه به دا کوشش ان شاء الله کوم چې کومو ملګرو خبرې کړې دی، هغه زه بیا دوباره معاد نکړم۔ جناب سپیکر صاحب، بجټ د درې الفاظو مجموعه ده او امن لفظ کښې هم درې الفاظ راغلی دی او بجټ د "ب"نه شروع شوے دے، امن د "الف" نه شروع شوے دے او مونږ او تاسو کښې اکثر خلق دا پیژنی چې "الف" اول دے او هغې پسې بیا "ب" راغلے دے۔ جناب سپیکر صاحب، بجټ به هله پائیدار وی، بجټ باندې به هله عمل کیږی چې کله یوه معاشره کښې امن وی، محبت وی، بدګمانئ نه وی، وروروِلی وی، اعتماد وی هله به بجټ فائده کوی۔ که چرې یوه معاشره کښې نفرتونه وی، روډ جوړیږی نور خلق ئے وراونوی، که یوه معاشره کښې بغض وی، روډ جوړیږی هغه ورانیږی، که یوه معاشره کښې نفرت وی، سکول جوړیږی هغه ورانیږی، که یوه معاشره کښې بغض وی، مدرسه او جماعت جوړیږی هغه ورانیږی، جناب سپیکر صاحب! بیا به دا د قومی خزانې ضیاع وی، عوامو ته به د دغه بجټ بیا هیڅ څه فائده نه وی۔ جناب سپیکر صاحب، که د بجټ دغه تقریر ته وکتلے شی چې دا کوم مونږ ته تاسو راکړے دے۔ د دغې محور جناب سپیکر صاحب، درې شیان دی، صفحه نمبر 3 او ذیلی شاخ نمبر 9 باندې لیکلی دی: "*ہماری مخلوط حکومت کی ترقیاتی ترجیحات کا محور تین رہنماء اصول رہینگے، یعنی غربت کا خاتمہ، محروم عوام کو زیادہ سے زیادہ سہولیات کی فراہمی اور پسماندہ اضلاع کو ترقی یافتہ اضلاع کے برابر لانا*"۔ زه جناب سپیکر صاحب، صرف په دغه درې خبرو باندې مختصر څه وئیل غواړم۔ جناب سپیکر صاحب، بجټ کښې د امدن چې کومې ذریعې دی، دا بجټ د هغې نه جوړ دے، هغه پیسې به خرچ کیږی، 198 ارب د مرکزی ټیکسونو نه دغې صوبې ته راغلې دی، د هغې مطابق مونږ سکیمونه اچولی دی او دویم زیات نه زیاتې چې کومې پیسې مونږ ته ملاؤ دی په دویم نمبر باندې، هغه جناب سپیکر صاحب، د ګیس رائلټی ده او ګیس دغه تمام خلقو ته بلکه بین الاقوامی دنیا ته دا معلومه ده چې ګیس دغه صوبې کښې جنوبی

اضلاع کښې دے، بل ځائے کښې نشته، 27 ارب 49 کروړ 41 هزار روپئ مونږ ته په یو کال کښې د ګیس رائلټی د جنوبی اضلاع نه ملاؤ دی او جناب سپیکرصاحب، د بدامنئ خلاف 23 ارب روپئ مونږ ته ملاؤ دی خو زه صرف دا وئیل غواړم چې د وسائلو کوم تقسیم دے، دغه تقسیم کښې انصاف نشته، دا وسائل منصفانه طریقې سره نه تقسیمیږی، هغه ځکه که چرې یو ځائے نه تا ته 27 ارب روپئ ملاویږی، بیا پکار دا ده چې هغه خلقو ته د د دغې 27 اربو د آمدن په ذریعه سره په دغه باندې بیا پیسې هم خرچ شی۔ پرون زما یو ورور خبره وکړه ګل صاحب خان صاحب، جناب سپیکر صاحب! یقینی طور باندې زه محرومتیا ګورم خلقو کښې، یقینی طور باندې زه مایوسی ګورم د جنوبی اضلاع خلقو کښې، یقینی طور باندې زه هغه خلق پسمانده ګورم د جنوبی اضلاع خلق، هغه ځکه چې 27 ارب کښې که زما نور هیڅ حق نه وی د جنوبی اضلاع خو چې دا زه څومره آمدن درکوم، کاش چې ایک دو څه درې فیصده پیسې زما دغه جنوبی اضلاع کښې خرچ وې خو جناب سپیکر صاحب، دا ټول بجټ د اے ډی پی کاپئ که وګورئ صرف یو د هنګو د هسپتال ذکر دے چې هغه د ایم ایم اے د دور نه شروع شوے دے او تر اوسه پورې دا جنوبی اضلاع محرومې ساتلې شوې دی او دا به داسې وختونه راځی، که نن مونږ څه ونه وئیل، نن که مونږ غلی پاتې شولو نو دا جنوبی اضلاع به د محرومتیا او د مایوستوب د وجې نه به دا دویمه ډیره بګټی تا ته دغه ځائے کښې دغه صوبه کښې جوړیږی عزتمندو۔ جناب سپیکرصاحب، روډونه چې څومره دی، جنوبی اضلاع ورکښې نشته، کالجونه چې څومره دی، کالجونو کښې د جنوبی اضلاع ذکر نشته، سوات کښې یو کالج دے او صوابئ کښې یو کالج دے، جناب سپیکر صاحب! دا خو پریږده، دا به اوو ایو چې وخت لږ وو، دا بل چا کړی دی خو زه دغه خبرې ته ډیر زیات خفه یم چې دغه حکومت یوه نعره لګولې وه او د حکومت خپل مینځ کښې یو اختلاف روان وو، په دغه خبرې باندې روان وو چې مونږ تعلیم محکمه غواړو، مونږ سره یو پروګرام دے، د هغه پروګرام مطابق مونږ دا صوبه مخکښې بوتلل غواړو خو جناب سپیکر صاحب، 50 فیصد الاؤنس هغې اضلاعو ته چې کوم دور دراز علاقې دی، پسمانده علاقې دی، پهاړی علاقې دی، هغه ځائے کښې ای ډی

اوز، د سکول نورې محکمې هغوی ته 50 فیصد د اضافی پیسو ورکولو اعلان شوے دے خو زه ډیر معذرت سره دا خبره کوم چې هغه اضلاع کښې بیا هنګو ضلع پریښودلې شوې ده، بیا جنوبی اضلاع نظر انداز شوی دی، صرف یو ټانک ورکښې شامل دے، نوره یوه ضلع ورکښې نشته۔ جناب سپیکر صاحب، زه ډیر افسوس سره دا خبره کوم، بابک صاحب دلته ناست دے، تیر حکومت کښې پینځه اضلاع، محکمه خزانې داسې یو فرمان جاری کړو چې دغه پینځو اضلاع کښې کوم سرکاری ملازمین دی، دوئ ته به اضافی پیسې ملاویږی خو زه بدنصیبئ سره دا خبره کوم چې په هغې کښې هم هنګو ته هیڅ څه ملاؤ نه شول، هنګو هم هغه شان محرومه وساتلے شو۔ جناب سپیکر صاحب، د دهشت ګردئ په مد کښې حکومت ته چې کومې 23 ارب روپئ ملاؤ دی، هغه 23 ارب روپو کښې هنګو هغه ضلع ده چې پینځه کاله تیر شو او خدائے ته به معلوم وی چې راتلونکی به څومره وختونه، هغه روزانه دهشت ګردی برداشت کوی؟ د اورکزئی ایجنسئ، د کرمې ایجنسئ، د وزیرستان ایجنسئ بلکه هر دریم کور داسې دے چې په هغې کښې متاثرین پراته دی خو جناب سپیکر صاحب، د دهشت ګردئ په مد کښې د ضلع هنګو هیڅ څه خیال نه دے ساتلے شوے، زما به دا ګزارش وی، دغه حکومت ته به مو دا ګزارش وی او خاصکر سراج الحق صاحب ته به مو دا ګزارش وی چې که مونږ او تاسو د انصاف خبره کوؤ، اول به انصاف زه د ځان نه شروع کوم، جناب سپیکر صاحب، زه به محکمه کښې هله انصاف راولم چې اول په ما کښې انصاف وی، زه به د محکمې نه هله د انصاف تقاضه کوم چې زه اول خپله د انصاف تقاضې پوره کړم، زما به دا ګزارش وی، دا خلق محرومه خلق دی، منور خان صاحب خبره وکړه، خبره زه نه معاد کوم خو که دا خلق مونږه دغه شان محرومه وساتل، دغه خلق مونږه هم دغه شان مایوسه کړل، خدائے د نه کړی د هزارې په شان یو تحریک جنوبی اضلاع کښې راواوچت نه شی۔ جناب سپیکر صاحب، زه خپلې خبرې ختمول غواړم خو صرف دا یوه خبره کوم چې انرجی اینډ پاور ته حکومت، سراج الحق خپل تقریر کښې اووئیل چې مونږ دا دا منصوبې شروع کوؤ، زه به ستاسو په علم کښې یوه خبره راولم چې که مونږ اوس نوې منصوبې شروع کوؤ، په هغې کښې نوے تحقیق کوؤ، د هغې

رپورټونه جوړیږی نو زه وایم چې دا حکومت به ختم وی، بیا به راتلونکے حکومت دا خبره کوی، غالباً 2012 کښې هوتی صاحب آل پارټیز کانفرنس راغوښتے وو خپل ځائے کښې، په هغه آل پارټیز کانفرنس کښې څه منصوبې داسې وې چې زر شروع کیدونکې وې او څه داسې وې چې به دیر شروع کیدونکې وې نو د نوی کوشش کولو نه بهتره به دا وی چې مونږه هغه زاړه رپورټونه رااوغواړو چې کوم ځائے کښې کار شروع شوے دے او کوم ځائے کښې نه دے شروع شوے ، هغه ځکه دا د ټول حکومت مسئله ده، دا د پارټو خبره نه ده، دا د عوامو د تکلیف خبره ده، د دغې وجې نه به زما دا ګزارش وی منسټر صاحب ته چې هغه فیصله او هغه قرارداد او هغه اے ډی پی د رااوباسی چې کومې کښې مخکښې هوتی صاحب د دې بجلئ منصوبو د پاره پیسې ایښی دی۔ جناب سپیکر صاحب، لکه ما تاسو ته اووئیل، ځنې خبرې زما ضمیر ملامت کوی، نه کول غواړم، ما سره یو تقریر د همایون صاحب د بجټ د 13-2012 موجود دے او یو د سراج الحق صاحب تقریر راسره موجود دے، زه ډیر په معذرت سره دا خبره کوم چې دا بجټ ما ته یو Ongoing budget ښکاریږی خو صرف دا شوې ده چې د دغې صفحې لږې زیاتې دی او د دې صفحې کمې دی، نور هم هغه شان سکیمونه دی خو یو ئے په 10 صفحې باندې اچولے دے، دے ځل ئے هغه په 22 صفحه باندې اچولے دے۔ یو ئے که په 8 صفحه باندې اچولے دے، دے ځل ئے هغه په 5 صفحه باندې اچولے دے (تالیاں) او جناب سپیکر صاحب، زه هغه اخری خبرې طرف ته راځم چې ما کومه کړې وه، هغه دا وه چې مونږ به دلته کښې غربت ختموؤ، جناب سپیکر صاحب! غربت ختمیږی چې خلقو ته روزګار ورکړلے شی، غربت ختمیږی چې خلق په نوکرئ باندې ولګولے شی خو دغه بجټ تقریر کښې خو ما ته د لکهونو نه چې د سوؤنو او د زرګونو روپئ هم نه معلومیږی چې هغه ئے د دې د پاره ایښې وی چې دا به خلق بهرتی کوؤ او خلقو ته به مطلب دا دے روزګار ورکوؤ، نو دا غربت به څنګه ختمیږی؟ په دې بیا زه نه پوهیږم۔ سراج الحق صاحب نه زه امید لرم چې ان شاء الله العظیم هغه به بیا ما په دې باندې پوهه کړی۔ وآخِرُالدَعوَانا أَنِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَـٰلَمِينَ۔

جناب اسرار اللہ خان گنڈاپور (وزیر قانون): سر!

جناب ڈپٹی سپیکر: جی اسرار اللہ گنڈاپور صاحب۔

وزیر قانون: تھینک یو سر۔ سر، میری گزارش اپنے معزز اراکین سے یہ ہوگی کہ سر، جو لسٹ آپ کو Present کی گئی ہے، اس میں ابھی کافی سارے نام رہتے ہیں۔ آپ نے جو Rule کا حوالہ دیا اور اس کیلئے آپ نے ایک Time limit بھی مقرر کی تھی، ایک تو مہربانی کرکے اگر اس کا لحاظ رکھا جائے، نہیں تو سر، یہ جو آپ کا ایجنڈا ہے، یہ اگر ہم Rule 20 کے (3) Sub rule میں جائیں تو چار گھنٹوں کے اندر آپ نے اس پہ پھر وائنڈ اپ کرنا ہوگا اور اگر ہم اس میں آتے ہیں تو یہ ممبران جو تقریر کر رہے ہیں، یہ پھر اس سے محروم رہ جائیں گے۔ میری ایک تو سر، چیئر سے یہ گزارش ہوگی اور تمام پارلیمانی لیڈرز سے کہ اگر ان کے جو Selected Members ہیں، جن کے حلقوں میں اگر کوئی مسئلہ ہے یا واقعی سپیچ کرنا چاہتے ہیں تو اگر وہ تقریریں کرلیں، پھر فنانس منسٹر صاحب بھی وائنڈ اپ کریں گے، نہیں تو پھر یہ آپ کا جو ایجنڈا ہے، آج 'کمپلیٹ' نہیں ہوسکتا، یہ آپ کا پھر Carry over کرے گا Second day تک، تو میری یہ پارلیمانی لیڈرز صاحبان سے بھی گزارش ہے اور چیئر سے بھی یہی استدعا ہے کہ یہ جو Time limit آپ نے خود مقرر کی ہے، اس کو Ensure کرائیں سر۔ تھینک یو۔

جناب عبدالستار خان: جناب سپیکر!

جناب ڈپٹی سپیکر: ایک منٹ جی۔ ابھی تک میرے پاس جو لسٹ ہے، 35 جو معزز ممبران اسمبلی بقایا ہیں، جنہوں نے بحث میں حصہ لینا ہے تو اسی لئے میں ریکویسٹ کرتا ہوں کہ کم از کم ٹائم کا لحاظ رکھیں گے تو تب کہیں جاکے وائنڈ اپ ہوگا۔

محترمہ نگہت اورکزئی: جناب سپیکر صاحب! پچھلے ادوار اور حکومتوں میں جو لوگ تقریر کیلئے نام جمع کراتے تھے تو ان کی تعداد تو زیادہ ہوتی تھی لیکن ان کے لوگ جو ہیں، وہ کچھ لوگ بول لیتے تھے تو اس سے ٹائم کی بچت ہو جاتی تھی۔ یہاں پہ اب جب سارا ہاؤس ہی بول رہا ہے تو ظاہر ہے کہ اپوزیشن نے بھی بولنا ہے، وہاں سے بھی بولنا ہے تو سر، پھر یہ زیادتی ہو جائے گی کیونکہ ہر بندے کا اپنا اپنا اور یہاں پہ اگر اپوزیشن۔۔۔۔

جناب ڈپٹی سپیکر: نہیں اپوزیشن۔۔۔۔

محترمہ نگہت اورکزئی: نہیں آپ کی بات بالکل۔۔۔۔

جناب ڈپٹی سپیکر: Repetition ہو رہی ہے جی، آپ دیکھ رہے ہیں، صبح سے میں۔۔۔۔۔

محترمہ نگہت اورکزئی: آپ کی بات بالکل۔۔۔۔۔

جناب ڈپٹی سپیکر: میرے خیال میں۔۔۔۔۔

محترمہ نگہت اورکزئی: آپ کی یہ بات ٹھیک ہے۔

جناب ڈپٹی سپیکر: زیادہ تر وقت ہم اپوزیشن کو دے رہے ہیں، ان شاء اللہ ایسی کوئی بات نہیں ہے اور Repetition سے آپ گریز کریں تو تب جو ہے، یہ ان شاءاللہ۔۔۔۔۔

جناب عبدالستار خان: جناب سپیکر! میں ایک بات کرنا چاہتا ہوں۔

جناب ڈپٹی سپیکر: یہ آپ جو ہے تو کل آدھا گھنٹہ تقریباً لے چکے ہیں پلیز۔

جناب عبدالستار خان: نہیں سر، یہ Rule 141 ابھی بھی ٹائم ہے، ہم اپنی تقریر پورا کر سکتے ہیں، ٹائم ہمارے پاس ہے۔۔۔۔۔

جناب ڈپٹی سپیکر: ٹھیک ہے۔

جناب عبدالستار خان: تو اس پہ منتخب ممبران بول سکتے ہیں۔

جناب ڈپٹی سپیکر: 35، 35 معزز ممبران بقایا ہیں اسی لئے عرض کر رہا ہوں کہ کل کیسے پورا ہو گا؟

جناب عبدالستار خان: تو چار دن ہیں ہمارے پاس۔

وزیر قانون: سر! یہ ہماری استدعا جو ہے، وہ پارلیمانی لیڈرز سے ہے۔ اگر عبدالستار صاحب پارلیمانی لیڈر ہیں تو انہوں نے تو سر، اپنا ٹائم بھی گزار لیا ہے اور اگر وہ پارلیمانی لیڈر ہیں تو میری سیکرٹریٹ سے بھی یہ گزارش ہو گی کہ ان کو فرنٹ سیٹ پر لے آئیں اور یہاں سے وہ سر، ہمیں رولز کا حوالہ دیں۔ ہم سر، Agree کرتے ہیں شیڈول کیساتھ لیکن ہماری استدعا صرف یہ ہے کہ آپ نے قاعدہ کے تحت ان کو دس دس منٹ کا کہا ہے لیکن وہ دس منٹ سے سپیچ لمبی ہو رہی ہے۔ ہم سر، آخر میں پھر آپ کو، اس کو Guillotine کرنا پڑے گا اور وہ اچھی روایات نہیں ہو نگی۔

جناب سردار حسین: سپیکر صاحب!

جناب ڈپٹی سپیکر: جی سردار بابک صاحب۔

جناب سردار حسین: مہربانی سپیکر صاحب۔ میں یہ سمجھتا ہوں کہ وزیر قانون صاحب نے بات کی ہے، میرے خیال میں یہاں پر ہر ایک معزز ممبر کو بولنے کی اجازت ہے۔ ویسے بھی اگر حکومت فراخدلی کا مظاہرہ کرتی اور بجٹ تیار کرنے سے پہلے اپوزیشن کے ساتھیوں کو بٹھاتی، مشاورت کرتی تو میرے خیال میں ویسے بھی ابھی تو بجٹ میں ہمارے جو حکومتی ارکان ہیں، وہ بھی گلہ مند ہیں اور ان کی بھی ناراضگی ہے، وہ بھی خفا ہیں اور اپوزیشن والوں کو سکیمز بھی نہیں ملی ہیں اور ان کو بولنے کی بھی اجازت نہیں ہوگی تو میرے خیال میں میں وزیر قانون صاحب سے یہ ریکویسٹ کرونگا کہ جتنا بھی آپ لوگ بیٹھیں گے، ان شاءاللہ ہم ان سے زیادہ بیٹھیں گے لیکن At least اپنے جو ممبران ہیں، سارے ہاؤس میں ہر ایک اپنے حلقے کا وکیل ہے، نمائندہ ہے اور اپنے مسائل کو ضرور مطلب نوٹس میں لانا چاہیں گے تو ریکویسٹ ہماری یہ ہوگی سپیکر صاحب! کہ No problem، اگر ٹائم زیادہ بھی لگے، میرے خیال میں نمائندوں کی نمائندگی کا جو حق ہے، وہ کم از کم ادا ہو جائے گا جی۔ تھینک یو۔

وزیر قانون: سر! اس معاملے کا حل اس لحاظ سے ہونا چاہیئے کہ کل یہ استدعا اپوزیشن بنچز سے آئی تھی، شاہ حسین صاحب تھے، نگہت بی بی تھیں، انہوں نے یہ کہا تھا کہ جو گورنمنٹ سرونٹس ہیں، دو دن ان کی چھٹی کا حق ہے اور انہوں نے کل ہی کہا تھا کہ مہربانی کرکے اس کو کل ہی آپ وائنڈاپ کرلیں تاکہ یہ دو دن کی چھٹی Entertain کریں۔ اگر اپوزیشن آج یہ سمجھتی ہے کہ نہیں ہم سب تقریریں کرنا چاہتے ہیں تو سر، ہم آئیں گے لیکن ہماری یہ گزارش ہے کہ پہلے اپنی صفوں میں یہ مشورہ کرکے آئیں تاکہ ہمیں یہ اندازہ ہو کہ اگر کل ہم نے اجلاس رکھنا ہے تو پھر یہ اسمبلی سیکرٹریٹ بھی ہے، سیکرٹری صاحبان کے نمائندے بھی ہیں، ایم پی ایز ٹریژری بنچز کے بھی ہیں تو کم از کم اگر یہاں سے مشورہ یہ ہے کہ ہم اجلاس کو Carry over کرتے ہیں پھر تو سر، رولز کے تحت آپ کو 23 کے تحت ابھی پھر چار گھنٹوں کے بعد اس کو وائنڈاپ کرنا پڑے گا۔

جناب ڈپٹی سپیکر: میرے خیال میں چائے اور نماز کے وقفہ کے بعد یہ آپس میں مشورہ بھی کرلیں گے اس پہ، فی الحال آدھا گھنٹے تک چائے کا وقفہ اور نماز کا وقفہ ہے، ان شاءاللہ اس کے بعد بات ہوگی۔

(اس مرحلہ پر ایوان کی کارروائی چائے اور نماز ظہر کیلئے ملتوی ہوگئی)

(وقفہ کے بعد جناب ڈپٹی سپیکر مسند صدارت پر متمکن ہوئے)

جناب ڈپٹی سپیکر: قیموس خان سے گزارش ہے جی، قیموس خان صاحب۔

جناب قیموس خان: اَعُوذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ۔ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ۔ جناب سپیکر صاحب! شکریه۔ جناب سپیکر صاحب، نن دا دریمه ورځ ده چې په بجټ باندې کوم بحث وشو، د هغې په ټول پهلوګانو باندې، که په امن باندې دے، که په هغې بجټ کښې څه کمے دے، زمونږه ټول ليډرشپ او ټولو ايم پی اے ګانو په هغې باندې بحث وکړو۔ زما يو څو تجاويز دی د خپلی علاقې او د دې ټولې صوبې په باره کښې تجاويزو له به زه راځم سپيکر صاحب خو د هغې نه مخکښې زه به د هغه بدقسمته علاقې لږ خدوخال او په هغې باندې خبره وکړم۔ جناب سپيکر، په 1969 کښې مونږه د سوات داسې يو ټوټه د پاکستان حکومت ته حواله کړه چې په هغې کښې امن وو۔ جناب سپيکر صاحب، په هغې کښې هر قسم ډيويلپمنټ وو او د هغې سره سره شريفانه ژوند په هغې کښې وو او د هغې د ډسپلن تاريخ پروت دے جی، نن هغه سوات چې دے نو هغه مونږ ته په داسې حالات کښې حواله شو چې مونږه ورته وران وايو خو زمونږ دا جنوبی اضلاع ورته ړنګ وائی، نن هغه ړنګ علاقه مونږ ته حواله شوې ده۔ جناب سپيکر، د دغه سوات چې کله د والئ سوات رياست ختميدو، زمونږ په سوات کښې دوه کالجونه وو، يو د مټې کالج وو، يو جهانزيب کالج وو۔ په درې څلويښت کاله کښې مونږ ته حکومت بل کالج نه دے جوړ کړے۔ زمونږ دا PK-86 حلقه چې ده، دې ته جهانزيب کالج کښې هم داخله نه ملاويږی، وائی تاسو لوکل نه يئ، د مټې کالج داخله نه راکوی، وائی تاسو لوکل نه يئ خو تر اوسه پورې زمونږه دا خيال وو چې زمونږه د سوات په باره کښې چې د هر سړی په ژبه دا خبره وه چې سوات پاکستان بچ کړے دے، خلقو ئے قربانی ورکړې ده خو د هغه قربانئ په صله کښې مونږ ته په سوات کښې نن په دې بجټ کښې هيڅ قسم له داسې مراعات نه دی راکړی شوی۔ جناب سپيکر، پکار دا وه چې دا موجوده حکومت چې دوئ چينج راولی، پکار دا ده چې سوات ته د هغې متبادل داسې پيکج راکړے وے چې د سوات د خلقو دا کوم ضرورتونه چې دی چې دا پوره کړی۔ جناب سپيکر صاحب، په بل طرف باندې که مونږ له په هغه صله کښې چې دا نه راکوی نو نن

دې حکومت کښې زمونږه پينځه ايم پی اے گان چې دی نو د تحريک انصاف نه د سوات خلقو راليږلی دی، کم ازکم چې د هغې صله چې ده نو ورکړی هغه علاقې ته. جناب سپيکر، که زه د دهشت گردئ په حواله خبره وکړم، که زه د سيلابونو په حواله خبره وکړم نو د سوات ټول نظام درهم برهم شوے دے. د لنډاکی نه واخله تر مينگورې پورې، د مينگورې نه واخله تر کالام پورې دا ټول سړک چې کوم دے نو دا خراب دے، د دغه سړک د پاره په دې بجټ کښې هيڅ څه پيسه نه ده ايښودې. که يو سړک دوئ مونږ ته ښائی چې هغه د امريکې يا د يو ايس ايډ يا د متحده عرب امارات په امداد باندې جوړيږی نو د هغې نه هم دوئ فائده وانخسته، په هغه زوړ سړک باندې ئے تارکول واچول، پکار دا وه چې مونږ ته ئے يو نوے سړک ويستلے وے. جناب سپيکر، نن د سوات آبادی په دې ټولو ضلعو کښې ډيره په تيزئ روانه ده، پکار دا ده چې مونږ ته د سيند په غاړه په 'لفټ' سائډ باندې د کالام پورې د لنډاکی نه يو سړک راکړے وے، هم به د خلقو زمکې بچ شوې وے، هم به د سياحت د پاره لار کهلاؤ شوې وه. پرون چې دے نو په کالام کښې د هغه بلې ورځې نه يو فيسټيول روان دے چې تاسو به په دې اخبارونو کښې، په ټی وی کښې ليدلی وی. جناب سپيکر، مونږ ته دا علماء کرام وائی د جنت چې کومې خوشحالياني دی، د جنت چې کوم سهولتونه دی نو هغه د چا نه پټ نه دی، قرآن د هغې ذکر کړے دے خو وائی چې تاسو هغې له ځئ نو په پل صراط باندې به پورې وځئ خو نن که مونږه دغه فسټيول ته دې سياحت ته ځو نو يو خو دوئ VIPs په هيلی کاپټر کښې تلل دی خو نن د دې سړک دا خبره ده، زمونږه د دې سړک دا حالات دی، په دې حالاتو کښې به کوم سړے سيل ته لاړ شی او د سياحت د پاره به هغه علاقې ته لاړ شی؟ نو پکار دا ده، زما دا تجويز دے چې دا Main سړک چې دے نو دا مونږ له فوراً جوړ کړئ او د نوی د سيند په غاړه باندې د يو بل سړک يو تجويز دے چې په هغې باندې عمل وکړے شی جی. بله خبره دا ده جی، که زه صرف د خپلې علاقې خبره کوم نو د دې سره تاسو د پيښور د خوشحالو خبره کړې ده، دې پيښور کښې زمونږ وزيرخزانه صاحب وائی چې دا زمونږ جهومر دے نو په ديکښې زما تجويزونه دی يو دوه درې. يو تجويز زما دا دے چې دا رنگ روډ چې کوم دے، د هغې نه کهنډر جوړ

شوے دے ، یو پکار دا دہ چې هغه روډ صحیح کړی، یو د هغې امن بحال کړی او دویمه دا دہ چې د دې دا پجگی روډ تاسو زوتوئ خو دا زہ نه پیژنم خو د چارسدې د روډ سره چې د رنگ روډ کومه حصه لگیدلې دہ، دا یو منصوبه وہ چې دا د تهکال سره او د دې حیات آباد سره دا وجنگیږی۔ زما یو خور د لاهور په شان د هغه بسونو خبره هم کړې دہ نو پکار دا دہ چې داسې هم یو انتظام وشی چې دا په اسانئ سره خلق دې علاقه کښې چرته تلې شی چې په دې پیښور باندې پریشر کم شی جی۔ که مونږ د هسپتالونو خبره کوؤ نو د هسپتالونو خو دوئ وائی چې یره مونږ ډسټرکټ هیډکوارټرز هسپتالونو له ترقی ورکوؤ خو د هغې سره سره چې کوم بی ایچ یوگان دی چې په لرو علاقو کښې پراته دی، پکار دا وہ چې هغې له ترقی ورکړې شی۔ د هغې سره سره په لرو لرو علاقو کښې ډسپنسریانې نورې جوړې کړې شی خو زہ د دې پیښور خبره که کوم نو د پیښور نه مخکښې یو کلے دے ، زما په خیال باندې شمشتو کیمپ چې ورته وائی، دا هغه علاقه دہ، نو یو ورځ زما هلته کښې شپه وہ نو هغه خلقو یو فریاد کولو چې مونږ د دې علاقې نه کله مریض هسپتال ته وړو، دې پیښور ته نو په لاره باندې د شپې په مونږ باندې ډزې وشی نو هغه مریض پریږدہ خو لکه مونږ ټول ولگو، په گولو باندې مونږه مړه شو۔ نو چې د پیښور په خوا کښې دلته کښې دا سهولت نشته، نه هسپتال شته، نه سکول شته نو مونږه خو به هسې تش په دې هاؤس کښې چغې به اوباسو خو پکار دا دہ چې حکومت دې خبرو ټولو ته ترجیح ورکړی، د دې خبرو یو حل رااوباسی چې هره لرې علاقه چې دہ او هر ځائے چې دے ، که هغه د پیښور خوا کښې دہ، که هغه زمونږ په علاقو کښې دہ چې دې ټولو له خپل خپل سهولت په وخت باندې ورکړے شی۔ جناب سپیکر، بله خبره پکښې د زنانؤ د زچگی د علاج په باره کښې چې خبره دہ چې دوہ سوہ روپئ به مونږ ورکوؤ، نو زہ وزیر خزانه صاحب ته چې دا د خپل بجټ په اخرنی وخت کښې چې دے ، خپل د هغې وضاحت وکړی چې دا دوہ سوہ روپئ به دوئ څنگه دې خلقو ته رسوی، د دې طریقه کار به څه وی؟ پکار دا دہ چې په هر هسپتال کښې که هغه ورکوټے هسپتال دے او که غټ دے چې په هغې کښې دوہ لیډی ډاکټرانې 24 گهنټې د دې د پاره حاضرې وی چې کومه زنانه راځی او فری علاج ورله کوی۔ د هغې

سره وزیر خزانه صاحب وئیلی دی چې مونږ به کوالټی طرف ته زیاته توجه ورکوؤ نو زه حیران یم چې کوالټی به په کومه طریقه راځی؟ زمونږ په دې علاقو کښې او تقریباً په دې ټوله صوبه کښې د مخکښې نه ایلیمنټری کالجونه وو، یو هلک یا جینئی به د لسم نه چې پاس شوه نو هغه به په میرټ په هغې کښې ورله داخله ورکړه، د هغې نه بیا هغه'ټرینډ' ټیچر یا ټیچره به رااوتله او په سکولونو کښې به بهرتی کیدله، نن هغه نظام ختم شوے دے، نو آیا چې د استاد ټریننګ ونشی نو د دې هلک کوالټی به دې څنګه ورکوی؟ د هغې سره سره د Quantity هم ضرورت دے ځکه چې زمونږ په علاقو کښې کم ازکم د دې نه محکښې چې کله بجټ پیش شوے دے، د سن 98ء پورې نو په هره حلقه کښې کم ازکم پینځه او شپږ شپږ سکولونه به جوړیدل خو زه دا وایم چې په سن 85ء کښې یو سکول جوړ شوے دے او د هغه کلی آبادی نن تقریباً درویشت څلورویشت کاله وشو نو هغه آبادی به څومره زیاته شوی وی او صرف مونږه هغه دوه کمرې سکول ته ناست یو چې په دیکښې به واړه سبق وائی۔ پکار ده چې یو سروے وشی، د دې ټولې صوبې وشی چې په کوم کوم ځائے کښې د هغه کلو آبادی زیاته شوې ده چې په هغې کښې بل بل سکول منظور شی په بله سیره باندې نو زما په خیال باندې په دغه کښې دا ماشومان به ځائے کیږی۔ جناب سپیکر، بله خبره دا ده چې د دوئ د سیاحت په باره کښې دا ده چې سوات ته وائی چې دا دویم سویټزر لینډ دے خو نن د سوات حالات داسې دی چې د مالم جبې سکیم چې وو، هلته کوم هوټل وو، کوم چیئرلفټ وو او دا څویم کال دے چې هغه زنګ شوے دے او تباه و برباد پروت دے۔ په هغې کښې یوه خښته چا ونه لګوله، دوئ وائی مونږ سیاحت له ترقی ورکوؤ۔ نو زما دا سوال دے چې دا کومې منصوبې چې دی، که هغه د مالم جبې دی، که هغه د کالام دی، که زمونږه کوم کوم ځائے کښې د سیاحت، مونږ له په سیاحت کښې صرف یو روډ راکړئ صحیح، بیا ترې تاسو خلاص یئ، زما په خیال باندې ټول خلق به هغه طرف ته راروان وی۔ جناب سپیکر، د یونیورسټئ په باره کښې به زه دا ګزارش وکړم چې زمونږ په سوات کښې یو یونیورسټی منظوره شوې ده، د هغې یونیورسټئ د پاره چې د کومو خلقو نه زمکې دغه شوی دی نو زما په خیال د پینځه لکهه روپئ کنال په ځائے باندې

دیرش زره او پنځوس زره روپۍ هغوی ته د هغې قیمت لګولے شوے دے۔ په دې بجټ کښې د هغې څه ذکر شته خو دا ګزارش کوم، وضاحت د وشی چې یره دغه یوائې د دې زمکې د پاره دی که نور څه د بنیاد کنلو یا د خبنتې د لګولو پکښې څه شته؟ دویمه خبره دا ده چې دغه یونیورسټی چې کوم ځائے جوړه شی، پکار دا ده چې مقامی خلق په دې مناسب پوسټونو باندې هلته بهرتی شی چې هغه خلقو ته د روزګار سهولت راشی۔ د ایریګیشن په باره کښې زما دا ګزارش دے جی چې زمونږ په علاقه کښې یو دوه نهرونو دی، یو ته فتح پور کینال وائی او بل د قومیزو خپل یو نهر دے، په تیر سیلابونو کښې هغه تباه و برباد شوی دی او هغه علاقه په زرګاؤ ایکړه زمکه شاړه پرته ده، هغې ته څه پیسې منظورې دی خو درې کاله کښې په هغې باندې څه کار ونه شو چې هغه خلقو ته هغه اوبه راورسی۔ په پنجاب کښې چې شهباز شریف په یو کال کښې چې دے نو لکه د میټرو بس دے که څه دے؟ د هغې یو شے جوړوی او خلقو ته سهولت ورکوی او مونږه په درې کاله کښې په زمکه باندې ناست، پراته نهرونو چې کوم دے نو د هغې انتظام نه شو کولے، پکار ده د هغه نهرونو او نور چې کومې وچې علاقې دی، هغې ته د بندوبست وکړے شی۔ جناب سپیکر، زمونږ د سوات ډیره کمه زمکه ده، که زه دا خبره وکړم چې زه په پیښور کښې په کومه زمکه ګرځم یا په نوښار کښې یا په چارسده کښې نو که زه پښه ایږدم نو زه به وایم چې دا د سوات ده ځکه د سوات هغه زمکې دریا برد کیږی او راځی او دلته هغه خاوره جمع کیږی۔ هغه د سوات د کټائی، د زمکې د کټاؤ د هغې څه پروګرام نشته چې هغې ته فلډ پروټیکشن بندونه وشی او هغه زمکه بچ شی۔ دویمه دا ده چې کوم میدانی زمکه ده، هلته هغه ټوله د آبادئ نه ډکه شوه او هغه ټوله آبادی شوه، په غرونو کښې زمکې دی، د هغې د پاره پکار ده چې په آرزان نرخ باندې هغه بلډوزرې فراهم شی چې خلق نوې زمکې ځان له اوباسی او کوم چې د فروټو باغونه دی، د هغوی د پاره څه پراسسینګ پلانټ ورته وائی یا هر څه چې ورته وائی چې د هغې څه بندوبست وشی چې د هغې زرمبادله به هم بچ شی او په دې ډبو کښې چې کومه میوه بندیږی یا د هغې مشروبات دی یا وچیږی چې د هغې هغه پروګرام په دغه علاقو کښې وشی جی۔ په اخره کښې زه، اخره خو لا نه ده جی خو زه دا خبره

کوم چې وزیر اعلیٰ صاحب دا وائی چې زه به مساوی حق دې علاقې له، هرې علاقې له ورکوم، هغه په دې فلور باندې د هغې وعده کړې ده خو زه دا وایم چې کوم امبریلا فنډ هغه ځان ته ایښودے دے نو د هغې طریقه کار به څه وی چې هغه به کومې علاقې ته په کومو اصولو باندې ورکوی؟ یو سړے به راځی وزیر اعلیٰ صاحب ته به درخواست کوی، که وزیر اعلیٰ صاحب به دوره کوی او هلته کښې به د دې دا پروګرام کوی؟ نو د هغې خبرې وضاحت د وشی۔ بله دا خبره ده جناب سپیکر چې د ټیکس په باره کښې دا څو ورځې وشوې چې په دې اخبارونو کښې خبرې راځی، زمونږه دا ملاکنډ ډویژن چې دے نو دا ټیکس فری زون دے او کله پورې هغه علاقې چې زمونږ د دې نورو علاقو مساوی نه وی راغلې، د هغې پورې هغه خلق ټیکس ته نشی جوړیدے، که څوک دا خبره کوی نو بالکل دا بې ځایه خبره ده، مونږه دې ته هیڅ قسم له تیار نه یو۔ جناب سپیکر، د دې نه مخکښې بابک صاحب، زما په خیال ناست دے او جعفرشاه صاحب هم ناست دے، دوئ به همیشه د دې جیلونو دا خبرې ډیرې کولې خو زما په خیال باندې اوس دوئ په دې تیر حکومت کښې یا هر څه چې دی خو دوئ د دې نه قلار شوی دی یا دغه طرف ته به ئے اراده نه وی، زمونږه د سوات جیل په تیره 2005 په زلزله کښې تباه شوے دے، د هغه ځائے نه قیدیان تیمرګرې ته ځی او یا بونیر ته او بیا کیسونو له ئے واپس سوات ته ئے راولی۔ د هغه جیل په دې بجټ کښې هیڅ قسم منصوبه نشته، نه د زمکې شته، نه د هغې د جوړولو شته جناب سپیکر، پکار ده چې د هغې انتظام وکړے شی۔ جناب سپیکر، په دې سوات کښې او زما په خیال په ټول ملاکنډ ډویژن کښې دا سپیشل پولیس چې کوم بھرتی شوی وو نو دا د یو غرض د پاره وو، هغه غرض دا وو چې دوئ په مثال فرنټ لائن کښې وو، په هره معامله کښې دوئ وو، په هغه وخت کښې چې د ټولو پولیسو کمے وو نو دوئ سخته تیره کړې ده۔ په هغه بله ورځ باندې څه وفد د وزیر اعلیٰ صاحب سره ملاؤ شوے وو، هغه څه د شپږو میاشتو خبره کړې ده خو پکار دا ده چې دا کسان یا مستقل کړی۔۔۔۔

(اس مرحلہ پر گھنٹی بجائی گئی)

جناب قیموس خان: یا د دوئ له ټائم اوږد کړی، ولې چې دغه کسان چې کوم دی نو هغوی ته کډې ناستې دی، د هغوی روزی په دغې کېښې ده جی۔ بله خبره دا ده چې سوات کېښې چې کوم د زمرد کان دے جناب سپیکر، د هغې هم څه شفاف طریقه نشته۔ هر څوک ټهیکه چې اخلی نو لکه پته ئے لګی چې د دې آمدن کوم پله ځی۔ پکار دا ده چې دا ټول قوم ته، عوام الناس ته پته وی چې د دې زمرود څومره آمدن دے او دې علاقې ته کومه فائده راځی۔ زمونږ په سوات کېښې، جناب سپیکر! په دوه منټو کېښې ختموم، د جنګلاتو کټائی شروع ده او هغه په ختمیدو دی، پکار ده چې په هغه غرونو کېښې نوی بوټی ولګولې شی۔ زما یو وړور په دیکېښې د خونانو خبره کوله نو دا بوټی اکثر دوئ ورکړی دی خو په داسې ټائم کېښې چې د هغې د شین کیدو ټائم ختم وی۔ پکار دا ده چې په وخت باندې لکه بوټی فراهم شی، نرسریانې ولګولې شی او دا ځنګلات دوباره پکېښې بوټی ولګولې شی، که هغه د خونانو وی او که هغه نور ځنګلات وی۔ جناب سپیکر، زه ستاسو ډیر زیات مشکور یم او چونکه د دې بجټ چې کومې اهمې خبرې وې، هغه ټولې مخکېښې شوې دی، دا یو څو مسائل وو، ما ستاسو په مخکېښې پیش کړل او زه په اخره کېښې ستاسو بیا بیا شکریه ادا کوم او وزیر خزانه صاحب ته زه دا خبره کوم چې دے د دې ملاکنډ ډویژن وسیدونکې دے او زمونږ دا توقع وه چې ده ته د دې ملاکنډ ډویژن د ټولو حالاتو پته ده، پکار دا ده چې دے د دې ټولې علاقې جائزه واخلی او کوم کوم ځائے کېښې چې څه کمے دے چې هغه علاقې ته د هغې بندوبست وکړی۔ والسلام جی۔

(تالیاں)

جناب ڈپٹی سپیکر: جناب محمد رشاد خان صاحب۔

جناب قربان علی خان: جناب سپیکر صاحب! یو اهم خبره ده، زه ستاسو په نوټس کېښې۔۔۔۔

جناب ڈپٹی سپیکر:: جی قربانی علی۔

جناب قربانی علی خان: سپیکر صاحب، ډیره مهربانی۔ دا یو مسئله ده زمونږه Inside د پارلیمنټ، د یو څو ورځو نه زه ګرځم د دې خپل، ستاسو په دې Jurisdiction

